# د ښځو او ماشومانو د حقونو څېړنيز بنياد

**د ښځو په وړاندې د زور زياتي د له مينځه وړلو د نړيوالې ورځې په مناسبت مطبوعاتي اعلاميه**

**کابل، د ۲۰۱۰ کال د نومبر ۲۵مه**

د نومبر ۲۵مه نېټه چې د ښځو په وړاندې د زورياتي له مينځه وړلو د نړيوالې ورځې سره سمون لري هرکال په افغانستان کې نمانځل کيږی. د ښځو او ماشومانو د حقونو څېړنيز بنياد د يوې حقوقي اوڅيړنيزې موسسې په توګه د خپلو مطبوعاتي اعلاميو په دوام داځل بياهم د هغو څيړنو په پام کې نيولو سره چې په دې وروستيو کې ترسره شوي، د ښځو د حقوقي وضعيت په اړه خپله ژوره اندېښنه څرګندوی او د اړونده دولتي ارګانونو، نړيوالو موسسو او افغان ولس پام لاندې ټکو راګرځوي:

- په سلو کې لږ ترلږه۴۶,۹ ښځې په خپلو کورنيو کې د فزيکي زور زياتي سره مخامخ دي. د دې ډلې څخه، په سلو کې ۱۲,۵ ښځې چې د فزيکي زور زياتو سره مخامخ شوي د وجود غړي يې مات شويدي، په سلو کې ۶,۶ يې په دايمي توګه معلولې شوې، په سلو کې ۲۲,۲ يې ټپي شوي، او په سلو کې ۵۸,۷ يې سرسري ټپي او د وجود برخې يې شنې شويدي.
- په سلو کې ۷ ميندې د دې لپاره چې زامن يې نړۍ ته ندي راوړي د خپلو ميړنو له خوا د وهلو ټکولو سره مخامخ دي.
- په سلو کې ۶۶,۲ ښځې په خپلو کورنيو کې د لفظي زور زياتي سره مخامخ دي. په سلو کې ۴۱,۷ ميندې په دې باور دي چې د نجلۍ درلودل د هغوی په ژوندانه مثبته اغيزه نلري بلکه د هغوی سره د غم لامل ګرځي.
- د هغو ښځو له ډلې څخه چې اقتصادي- مالي عايد ترلاسه کوي يواځې په سلو کې ۵,۹ يې د خپلو عوايدو د مصرف په اړه په خپلواکه توګه د پريکړې کولو ځواک لري.
- د څيړل شويو ودونو په سلو کې لږ تر لږه ۵۹ په زور سره ودونه دي چې د هغې ډلې په سلو کې لږ تر لږه ۳۰ ودونه د بدل په توګه ترسره شويدي او سربيره پردې په سلو کې په ۷۰ مواردو کې ښځې د مهر د حق څخه بې برخې شويدي.
- په سلو کې لږ تر لږه ۳۸ ښځو د ۱۱ او ۱۵ کلونو د عمرونو په لرلو سره ودونه کړيدي.
- په سلو کې ۸۸ ښځې چې د ډيرو ميرمنو لرونکو ميړونو سره ژوند کوي، د نفقې د ورکولو، ماشومانو ته د پاملرنې او نورو مواردو کې د خپلو ميړنو د بې عدالتۍ څخه سر ټکوي.

- په سلو کې ۴۰،۶ ځيرل شويو مواردو کې نجوني ښوونځي ته د تللو د حق څخه بې برخې وې چې له دې ډلې څخه په سلو کې ۲۹،۴ نجونو ښوونځي ته د نه تللو لامل کمزوری اقتصاد بللی دی.

- په سلو کې ۷۱،۹ ښځې د واده څخه وروسته د زده کړې او کار کولو د حق څخه بې برخې شويدي.

- په سلو کې ۳۱،۴ ښځې د روغتيايي مرکزونو د نه موجوديت، بيوزلی او ډاکټر او درملو د ليرې والي، او ډاکټر ته د تللو په خاطر د کورنيو د ممانعت په وجه د درملني په موخه د مخدره توکو څخه ګټه پورته کوي.

- په سلو کې ۲۳،۶ ښځې د ماشوم د بې وخته زيږيدنو لامل درانه کارونه لکه د چينو څخه د اوبو راوړل او د غرونو څخه د سونګ د لرګو راوړل بولي، په سلو کې ۱۱،۴ ښځې د دې کار دليل وهل ټکول ګڼي او په سلو کې ۳۷ ښځې درملو ته نه لاسرسی د ماشوم د بې وخته زيږيدلو لامل بولي.

د پورتنيو موندنو پر بنسټ چې د ښځو د حقونو څخه د پراخې سرغړونې ښکارندوينه کوي، د ښځو او ماشومانو د حقونو څيړنيز بنياد د افغان حکومت څخه غواړي چې په خپلو ملي او نړيوالو ژمنو باندې په اتکا سره د ښځو په وړاندې د زور زياتي د له مينځه وړلو د قانون د تطبيق په موخه ځانګړي او بيړني پروګرامونه جوړ کړي ترڅو د هغو په تطبيق سره د ښځو په وړاندې د زور زياتی څخه مخنيوی وشي.

**نوټ:** پورتني موندني په ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونو کې د هغو ترسره شويو څيړنو څخه اخيستل شوي چې د ښځو او ماشومانو د حقونو د څيړنيز بنياد او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون له خوا ترسره شويدي.


**د ښځو او ماشومانو د حقونو څيړنيز بنياد**

**د ټيليفون شميره: ۰۷۰۰۶۴۹۱۹۱**

**د برېښنا ليک پته: wclrf@yahoo.com**

**د دفتر پته: د ده نو، ده بوري پنځم سړک، د نورين د ټلويزيوني شبکې شاته، کابل، افغانستان**